اووه کسان دي چې الله تعالى به هغوی د خپل سيوري لاندې کړي، په هغه ورځ چې د الله له سيوري پرته به بل هېڅ سيوری نه وي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "اووه کسان دي چې الله تعالى به هغوی د خپل سيوري لاندې کړي، په هغه ورځ چې د الله له سيوري پرته به بل هېڅ سيوری نه وي: عادل پاچا، هغه ځوان چې د الله په عبادت کې رالوی شوی وي، هغه سړی چې زړه يې له جوماتونو سره تړلی وي، هغه دوه کسان چې د الله لپاره يو بل سره مينه لري، په همدې سره يو ځای شوي وي او په همدې سره جلا شوي وي، او هغه سړی چې يوې د منصب او ښکلا خاوندې ښځې (بدکار) ته بلنه ورکړي وي خو هغه ويلي وي: زه له الله نه وېرېږم، او هغه سړی چې په پټه صدقه ورکړي، تر دې چې چپ لاس يې نه پوهېږي ښي لاس يې څه ورکړي دي، او هغه سړی چې کله الله ياد کړي، نو سترګې يې له اوښکو ډکې شي".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله اووه ډوله مؤمنانو ته زېرى ورکړى، چې الله تعالى به هغوی د خپل عرش تر سيوري لاندې کړي، په هغه ورځ چې د هغه له سيوري پرته به بل سيوری نه وي: لومړى: هغه واکمن چې په خپل نفس کې عادل وي او فاسق نه وي، د خپل رعيت په منځ کې انصاف کوي او ظلم نه کوي؛ دا هغه څوک دى چې د مسلمانانو لويه واکمني لري او هر هغه څوک چې د مسلمانانو له چارو څخه څه په واک کې لري او انصاف پکې کوي، هم دې درجې ته ور شاملېږي. دويم: هغه ځوان چې د الله په عبادت کې رالوى شوى وي او خپله ځواني او قوت يې پکې مصرف کړى وي، تر دې چې په همدې حالت کې وفات شوى وي. دريم: هغه سړى دى چې زړه يې له جومات سره تړلى وي، کله چې ترې ووځي، تر هغه پورې چې بېرته ورته راوګرځي، د جومات سره د سخت محبت، ډېر تګ راتګ او دوامداره زړه نيوي له امله، که څه هم بدن يې له جوماته بهر وي. څلورم: دوه هغه کسان چې هر يو د بل سره د الله لپاره رښتينې مينه ولري، او د ديني محبت پر بنسټ دوام ورکړى، او دا مينه د دنياوي خنډ له امله پرې نه کړي، که سره يو ځای شوي وي يا نه، تر هغه چې مرګ يې جدا کړي. پنځم: هغه سړى چې يوې د نسب، شرف، مقام، مال او ښکلا خاوندې ښځې ځان ته د بدکار لپاره بلنه ورکړې وي، خو هغه ترې انکار کړى وي او ورته يې ويلي وي چې: زه له الله نه وېرېږم. شپږم: هغه سړى چې لږه يا ډېره صدقه يې ورکړې وي، او ريا يې پکې نه وي کړې، بلکې پټه کړې يې وي، تر دې چې چپ لاس يې نه پوهېږي چې ښي لاس يې څه ورکړي دي. اووم: هغه سړى چې الله راپه زړه کړي، يا په ژبې سره يې ياد کړي، په داسې ځای کې چې له خلکو لرې وي، نو د الله له وېرې او د هغه له تعظيمه يې سترګې راډکې شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66234